# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


### خلیل الرحمن حقاني د ایران سفیر ته

## ایران دې له افغان کډوالو سره ښه چلند او همکاري وکړي

شـریعت: د کډوالـو او بېرتـه راســتنېدونکو چـارو وزارت سرپرســت خلیل الرحمن حقاني په کابل کې د ایرن له ســفیر حسن کاظمي قمي ســره پــه خپل کاري دفتر کې وکتل.

د دغه وزارت له لوري په خبره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې کتنه کې حقاني د ایران له ســفیر څخه مننه وکړه او له هغه څخه یې په دغه هېواد کې د مېشــتو افغــان کډوالو ســره د ښکې رویې، د حج مراسمو پرمهــال د افغانانو تــګ راتګ، د کډوالو چارو وزارت د اتشــې سره د همکاریو او په بېلابېلو پېښــو کې د وژل شــویو افغانانو د جسدونو د چټک لېږد په برخه کې د همکاریو غوښتنه وکړه.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې په دغه کتنه کې د مهاجرینو۵مخ

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۴۴) ګڼه / سه شنبه ۰۶ رمضان‌المبارک ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۰۸حمل ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۸ مارچ ۲۰۲۳ میلادي

## شاروالی کابل طرح تطبیق ۱۵۰ پروژۀ مهم را روی دست دارد



مسؤولان شاروالی کابل می گویند که این نهاد در سال گذشته، چهار میلیارد و ۳۰۶میلیـون افغانی عاید داشته است که چند برابر بیشتر ازسال قبل آن است.

به گـزارش خبرنـگار آژانس باختر؛ مسئولان شاروالی کابل روز گذشته، در یک نشسـت خبـری در رابطه به کار کردها و دست آوردهای یک سال گذشته و برنامه‌های سال روان این نهاد توضیحات دادند.

مولوی محمد خالد سجستانی معین شاروالی کابل، در رابطه به کارکردهای ایـن نهـاد در یک سـال گذشـته؛ معلومات داد و گفت: رهبری شاروالی کابل، با داشتن دیدگاه مبدل ص۵

## لرې پرتو سیمو کې قابله‌ګانو ته مسلکي زده‌کړې ورکول کېږي



د ملګرو ملتونـو د کډوالـو عالـي کمېشنرۍ د افغانستان په لرې پرتو ســیمو کې قابله‌ګانو ته د مســلکي زده‌کــړې د پروګرامونــو د پیلېــدو خبر ورکــوي. د افغانســتان لپاره د کډوالو عالي کمېشنرۍ ویلي چې، په لرې پرتو ســیمو کې دغه رزونیز پروګرامونه د هغو قابله‌ګانو لپاره دي چې۵مخ

### د شمال سیندیزې حوزې مسؤلین

## د آمو سیند ښنده کې د ګوابښ کچه صفر ته رسېدلې

شریعت: د آمو سیند د ښنډو پیاوړتیا لپاره ۶ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوي او د یاد سیند په ښنده کې د ګوابښ کچه صفر ته رســېدلې ده.د شمال سیندیزې حوزې مسوولین وایي، چې د آمو سیند د ښنډو پیاوړتیــا او د ویجاړېــدو د مخنیوي په موخه یې د دکې د پیاوړتیا لپاره له عصري لارو چارو کار اخیستی دی.د مسوولینو په وینا: اسلامي امارت هوډ لري چې د خلکو د هوساینې او د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په برخه کې له هېڅ راز هلو ځلو څخه ډډه ونه کړي.

### الکوزی

## افغان سوداګر په انفرادي ډول روژه کې پر بېوزلو مرستې وېشي

د افغانســتان د ســوداګرۍ او پانګونــې خونه وایي، د یو شــمېر شرکتونو خاوندان او ملي سوداګر د روژې په میاشت کې اړمنو کسانو ته خپلې مرســتې په انفرادي ډول وېشــي. په افغانستان کې د خیریه موسسو یو شمېر مســوولین وایي چې د اړمنو کســانو شمېر ورځ په ورځ زیاتېږي. په ورته وخت کې د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسوولین، چې د دې خونې د ســخاوت صندوق لــه لارې له اړمنو کســانو ســره پــه ځانګړې توګــه د روژې پــه میاشــت کې مرستې کولې، وایي چې اوس دغه صندوق فعال نه دی او سوداګر به په انفرادي ډول له اړمنو کسانو سره مرسته وکړي. د دې۵مخ

## د افغانستان بانک ټول انفرادي جوازونه فسخ کړل




د افغانســتان بانک، پــرون په یوه خبرپاڼــه کــې، د ټولــو انفرادي جوازونو د فسخ کولو خبر ورکړی دی.دغه بانک۵مخ

## د کندهار ګمرک عواید ۵۶ سلنه زیات شوي




د کندهار ګمرک مســوولین وایي په تېــر ۱۴۰۱ المریز کال کې د ورم کال په پرتله د دغه ولایت د ګمرک عواید ۶۵ سلنه ډېر شوي دي. د دغه ولایت د ګمرک ویاند خلیل الرحمن وردګ ویلــي، د کندهار ګمــرک په ۱۴۰۱ لمریز کال کې ټولټال ۱۴ میلیارد ۲۳ میلیونــه ۷۴۵ زره او ۵۷۰ افغانــۍ عواید راټول کړي، په داسې حال کې چې پــه ۱۴۰۰ لمریز کال کې یې ۸ میلیارد ۵۱۴ میلیونه ۲۶۱ زره او ۸۸۹ افغانۍ عواید ټول کړي وو. هغه زیاته کړه، دغو شــمېرو ته په کتو د ۱۴۰۰ کال په پرتله په ۱۴۰۱ کال کې د دغه ولایت د ګمرک عواید ۵۶ ســلنه ډېر شوي دي. د هغه په خبره، دغه عواید له بېلابېلو خوراکــي او غیرخوراکي توکو، تعمیراتي سامان الاتو درملو او نورو سوداګریزو مالونو څخه ترلاسه شوي چې له پاکستان او یا له همدې لارې له نــورو هېوادونو هېواد ته وارد شوي دي.

## په رمضان کې له شریعته مخالف کارونه!
۲مخ

## د متحده ایالاتو تش په نوم ډیموکراسي!
۳مخ

## د نبوي دور فدایان!
۳ مخ

## جاپان له افغانستان سره ۲۱ میلیونه ډالره مرسته کړې

د ملګــرو ملتونــو د ماشــومانو د ملاتړ صندوق یا یونیســف په یوې رســنیزې اعلامیه کې لیکلي، چې جاپان له افغانستان سره څه باندې ۲۱ میلیونه ډالره مرسته کړې. په‌دې اعلامیه کې راغلي، یونیسف له دې مرستې ســره په ټول افغانستان کې ۱۸٫۳ میلیونه میندو او ماشــومانو ته واکســین او همــداراز په څلورو ولایتونــو کې ۳۰ زره کســانو ته په دولتي ښــوونځیو کې د څښــاک پاکې اوبه او روغتیایي اســانتیاوې برابروي.

### سرمقاله

## خوارج وپیژنئ!

په عراق له امریکایې یرغل سره هلته مؤمنانو ښــه مقاومت وکړ او په زرګونو امریکایې فوځیان یې د هلاکت کندې ته واســتول چې بیا وروســته امریکا د عراقي مجاهدینو په وړاندې د علني اجیرانو ترڅنګ ولسي ملیشــې هم ایجاد کړې، دغو ملیشــو د امریــکا په پټــو هدایاتو سره د مجاهدینو لپــاره لوی سرخوږی جــوړ کړ خــو د مجاهدینو مخه یې ونه شــوه نیولی کله چې د امریکا په علني اجیرانو او ملیشــو کې د مایوســۍ اثار ښکاره شول اخوا په مجاهدینو کې درز پیدا شو، د خوارج په نوم یوې ډلې د عراقي او شــامي مجاهدینو لــه منځه سر راپورته کړ دغه ډلې هغه مجاهدین د شــاله ډډې په نښــه کړل چې د امریکا او د هغــې د نوکرانو په مقابل کې مــخ په وړاندې روان ول دا ډله دومره بې رحمه وه چې انســانانوته یې د چنګیزیانو افســانې په ســترګو وروليدلې، دوی ان د شهیدانو او امامانو مزارونه هم په بمونو والــوزول، په عراق کې په مجاهدینــو باندې د دغه ډلې ګذارونه دومره ســخت ول چې مجاهدین یــې بالکل له ماتې سره مخ کړي ول. په افغانســتان کې هم تاسي ته څرګنده شــوه چې انســاني عقل دانه منله چې داسې یــوه ډله به را پیدا کیږي چې د کفارو سره په جګړه او جهاد کې ښــکیل مجاهدین به په شــهادت رســوي او دغه جنګ به غرونوته خېژي د مجاهدینو اســتوګنځایونه او کورونوته به اورونه اچوي هغه ۲مخ

## تخریب بیش از سی جریب مزارع کوکنار در چهار ولایت



شریعت: پولیس مبارزه با مواد مخدر، بیش از ســی جریب کشت کوکنار را در چهــار ولایــت تخریب نمود. دفترمطبوعاتــی وزارت امور داخله روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: پولیس مبــارزه با مــواد مخدر، ۱۷ جریب زمین را در ولسوالی‌های قرغه و الینگار لغمان، هفت جریب زمین را در ولســوالی های پشت رود، خاک سفید و فراهرود فراه، پنج جریب زمین را در ولسوالی نورگرام نورستان و یک و نیم جریب زمین دیگر را در ارزگان از کشت کوکنار پاک سازی نمودند. همچنان پولیس مبارزه با مواد مخدر وزارت امور داخله، چهار کارخانه مواد مخدر همراه با ۵۰ هزار کیلو گرام یامه را در غور کشــف، ۲۸هزار کیلوگرام یامه را در هرات حریق و همچنان ۱۱ تن را در پیوند به تولید و فروش مواد مخدر از این ولایات بازداشت کرد.

### معاون سیاسی ریاست الوزراء

## به مشکلات تاجران و سرمایه گذاران به گونۀ جدی رسیدگی می‌شود

شــریعت: مولوی عبدالکبیــر معاون سیاسی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان روز گذشــته در دفتر کاری اش با شماری از تاجران ملی و سرمایه گذاران دیدار نمود.

در این دیدار حاجی جلال و محمد نعیم خاخی به نمایندگی از دیگران صحبت نموده وضمن اینکه از ایجاد فضای امن ابراز خرسندی نمودند، به همکاری با امارت اســلامی اطمینــان دادند. آنان ابراز آمادگــی کردند که با اســتفاده از فرصت‌های فراهم شــده برای سرمایه گذاری، سایر تاجران و سرمایه گذاران را نیز تشــویق خواهند کرد. همچنان آنان مشکلات شان را شریک ساختند. مولوی‌عبدالکبیر معاون‌سیاسی‌ریاست الوزراء در این دیــدار گفت که آبادی و تقویت اقتصادی افغانســتان به اتحاد افغان‌ها و ســرمایه گــذاری در داخل کشور مرتبط است. مولوی عبدالکبیر افزود: امــارت اســلامی از تاجران و ســرمایه گذاران حمایــت همه جانبه می‌نماید.معاون سیاســی همچنان به تاجران و سرمایه‌گذاران مذکور اطمینان داد که مشــکلات آنان به گونۀ اساسی حل خواهد شد.

## استخراج ماهوار ۲ هزار تُن زغال سنګ از معادن کرکر بغلان




شــریعت: ماهانه بیش از دوهزار تُن زغال ســنگ از معادن کرکر ولایت بغلان به گونه ی معیاری اســتخراج می شود.مسؤولان ریاست معادن و پترولیم بغلان می گویند: که روزانه هفتــاد و چهار تُن زغال ســنگ از معدن زغال ســنگ کرکر استخراج می‌شود که ماهانه به طور اوسط به دو هزار و دوصدو بیست تُن می‌رسد. معدن زغال ســنگ کرکر در ســال ۱۳۱۷ هـ‌ش توسط یک ص۵




**سالمزی**

زما نظر دادی چې امن د الله رب العزت يو لوی نعمت دی چیرته چې امن ولی هلته سوداګریزو، تعلیمی، اقتصادي او ټولنیزو چارو کې هم پرمختګونه رامنځ ته کېږي د اسلامي امارت په واکمنیدو سره الحمد الله په ټول هېواد کې د امن ځا د رغوړیدلی چې دا د ټولو افغانانو يواځينی هیله وه، اوس هر وطنوال کولی شي د افغانستان اړونده سیمې چې هر خای ته يې زړه وغواړي د ډاډمن امنیت په فضأ کې سفر کولی شي پداسی حال کې چې د جمهوریت په دوران کې پلازمینه د وسله والو غلو په مرکز او ښتې او هیچا خپلې روپی پخپل جیب کې د سودا اخیستلو لپاره نشوې ګرځولی د افغانستان په تیر څلویښت کلن تاریخ کې دا لومړی ځل دی چې د رمضان المبارک (روژې) په میاشت کې د پلازمینې کابل او اړونده ولایتونو د ښاروالیو له لوري نرخونه کنټرولیږي او دوکاندارانوته نرخنامې ویشل کیږي سرغړونکوته يې سزا ورکول کیږي چې دا هم یونیک اقدام دی او ملت يې هر کلی کوي پکار ده چې په نورو برخو کې هم اړین ګامونه واخیستل شي او د ځوریدلي افغان ملت هغه قربانی چې د اسلامي نظام لپاره يې ورکړې وي رنګ راوړي او پدې لاره کې د هغه شهیدانو سربښندنې، او دبې وزله یتیمانو او کونډو هغه خوبونو او ارمانونوته د عمل جامه ورواغوستل شي چې د کوم هدف او مرام لپاره يې د خپلو وجودونو غړي او سرونه نذرانه کړي. د تیرې دوشنبې شپې د کرکټ بریا هر افغان ته څومره خوښې ورکړه موږ د دې خاورې بچیان يو دلته زېږيدلي او دلته موخاپوړي کړي په هر پرمختګ يې د زړه له کومې خوښیږو او د الله (ج) ته مو دا سوال دی چې نور موږ ستا د ازموینو طاقت او توان نلرو زموږ ګناهونه وبخښه او له هر ډول انسانې او شیطانې فتنو څخه موږ وژغوره.

## خوارج . . .

به سیزي او مجاهدین به په شهادت رسوي ستاسي عقل تاسي ته څه وايې تاسي د تیر فاسد او د امریکا لاسپوڅی نظام د هغه وخت د پارلمان غړی حاجی ظاهر څخه وانه وریدل چې خوارج امریکایې طیارو کې له یو ځای څخه بل ځای ته انتقالېدل ایا نور هم مطالعاتوته ضرورت او اړتیا شته چې خوارج وپیژنی، حکومت او ملت دې یو بل ته غیږ پرانیزي او اوږه په اوزه دې د خوارج په پیژندنه کې له اسلامي امارت سره خپل معلومات شریک کړي ترڅو په کامل ډول له منځه یوړل شي او په خپل ګران هیواد کې د ډاډمن امنیت او مسؤنیت په فضأ کې د محبت ډک او سرلوړی ژوند وکړو. و من الله توفیق

## واپس گیری یک قطعه زمین غصب شده در هرات

یک قطعه زمین ورزشی در هرات که از سوی زورمندان محل غصب شده بود، واپس گرفته شد و دو باره به ریاست تربیت بدنی و ورزشی آن ولایت سپرده شد.

به گزارش آژانس باختر؛ ریاست عمومی تربیت بدنی و ورزشی ، در خبرنامه ی نوشته است: بیست و سه جریب زمین ورزشی که در شهرک ماهی فروشان شهر هرات، موقعیت دارد؛ در سال ۱۳۹۳ برای ساخت یک مجتمع ورزشی به ریاست تربیت بدنی و ورزشی هرات سپرده شده بود که بعد از سوی زورمندان غصب شد و پس از بررسی‌های رئیس تربیت بدنی و ورزشی هرات و شاروالی شهر هرات ، زمین متذکره واپس گرفته شد و به ریاست تربیت بدنی و ورزشی آن ولایت سپرده شد.

# گفتگوهای مکرر تلیفونی وزیران خارجه ایران و عربستان



وزیران خارجه ایران و عربستان، در جریان یک هفته دو بار با هم گفتگوی تیلفونی کردند.

وزارت خارجه ایران اعلام کرده است که وزیر خارجه آن کشور روز گذشته، با همتای عربستانی خود تیلفونی گفتگو کرده‌است.

در جریان یک هفتهٔ گذشته، این دومین گفتگوی تیلفونی میان این دو وزیر خارجه است.

بنابر اعلام وزارت خارجه ایران، حسین امیرعبداللهیان؛ وزیر خارجه ایران و فیصل بن فرحان؛ وزیر خارجه عربستان سعودی در تماس تیلفونی شان پیرامون مسایلی که باید در دیدار حضوری شان که قرار است، در جریان ماه رمضان برگزار شود، بحث کردند.

در همین حال، گفته می‌شود که بازگشایی سفارتخانه‌های دو کشور از دیگر موضوعات مورد بحث آنان بوده است.

این در حالی است که وزیران خارجه ایران و عربستان چهارشنبه گذشته، نیز تماس تیلفونی داشتند.

دو کشور با میانجی‌گری چین، پس از ۷ سال روابط شان را از سر گرفتند.

روابط دیپلماتیک میان عربستان سعودی و ایران پس از حمله بر سفارت ریاض در تهران و قنسلگری آن در مشهد در سال ۱۳۹۴ قطع شد.

افراد خشمگین در آن سال و در پی اعدام یک روحانی شعیه مذهب در سعودی بر دو نهاد دیپلماتیک سعودی در ایران حمله کردند و سعودی روابط اش را با تهران قطع کرد.

این در حالی است که منتقدان بنیامین نتانیاهو؛ نخست‌وزیر رژیم اسرائیل گفته اند که تامین مجدد رابطه میان تهران و ریاض شکست سیاست خارجی تل آیوی است.

اسرائیل از طریق بریتانیا وامریکا تلاش دارد که روابط اش را با سعودی عادی سازد، اما موفق نشده است.

**آژانس باختر**

# د متحدو ایالاتو تش په نوم ډیموکراسي!

**حمیدي**

کله چې د امریکا متحده ایالات د نورو هېوادونو پر ډیموکراسۍ او بشري حقونو نیوکې پیل کوي، دغه احساس کېږي، چې پر دغو هېوادونو به جګړې تحمیل او اقتصادي بندیزونه رامنځته شي. په تېرو ډېرو کلونو کې متحدو ایالاتو د ډیموکراسۍ او بشري حقونو په غږولو سره په پر له پسې ډول پر نورو هېوادونو بریدونه کړي او اقتصادي بندیزونه لګولي دي او اوس یې د ځان لپاره دغه بڼه غوره کړې ده. متحده ایالات په دې هکله کافي ځان پېژندنه نه لري او اوس د تش په نامه دویمې دورې ډیموکراسۍ نړیواله سرمشرېزه چمتو کوي. دغه راز نړیواله ټولنه په ډیموکراتیکو او غیر ډیموکراتیکو ډلو وېشي، خو دغه کړنې په خپله له رښتیني ډیموکراسۍ څخه لېرې دي. ډیموکراسي او بشري حقونه د متحدو ایالاتو د تسلط او باداری غوښتنې د عملي کولو وسیلې ګرځېدلي دي. متحدو ایالاتو په پر له پسې ډول د ډیموکراسۍ او بشري حقونو په پلمه د نظامي او پولي زور له لارې په ټوله نړۍ کې تسلط عملي کړی او ډېر زیات هېوادونه په اوږد وخت کې د متحدو ایالاتو په تسلط ځپل شوي.

نړیوال د ډیموکراسۍ د تعریف په اړه مختلف دریځونه لري او متحد معیار نه لري. خو متحده ایالات خپله ډیموکراسي د نړۍ د ډیموکراسۍ لاربښوده بولي او پر هغو هېوادونو چې مختلف نظامونه او ایډیالوژۍ لري، بې ځایه نیوکه کوي او حتی په مستقیمه توګه یې د دغو هېوادونو واکمن حکومتونه شړلي او په زور سره یې د دوی نظامونه بدل کړي. متحدو ایالاتو غوښتل، چې په افغانستان، عراق او ځینو نورو هېوادونو کې خپلې ډیموکراسۍ پلې کړي، خو ناکام شول، دا یو څو تازه بېلګې دي. متحدو ایالاتو په افغانستان کې په تېرو شلو کلونو کې بې شمېره او میلیاردونه ډالر د تش په نامه ډیموکراتیک حکومت جوړولو لپاره مصرف کړل، خو امریکا ولې ناکامه شوه؟ متحدو ایالاتو په شلو کلونو کې په ډېره مغروره توګه د افغانستان ملي حالاتو ته هېڅ پاملرنه ونکړه او د افغانانو رښتینو غوښتنو ته یې ونه وکتل، په حقیقت کې یې رښتینی تسلط عملي کړ، جعلي ډیموکراسي یې خپره کړه. ډېرې پیسې د متحدو ایالاتو د ګټو اخیستونکو ډلو لخوا له کین جیب څخه واخیستلې، په پای کې یې ښي جیب کې پورته کړې. په افغانستان کې د متحدو ایالاتو د ډیموکراسۍ جوړولو پلان ناکام شو او له شلو کلونو وروسته یې له دغه هېواد څخه خپل پوځ وایسته .

خو متحدو ایالاتو د ناکامېدو پر عواملو فکر ونکړ او اوس غواړي د ډیموکراسۍ د نړیوالې سرمشریزې مشري وکړي. خو نړیواله سرمشریزه ډېر زیات هېوادونه نه مني، دا د ډیموکراسۍ په تعریف کې له سیاسي مساواتو څخه سرغړونه



بولي. څرګنده ده، چې دغه سرمشریزه به یوازې یو نوم ولري، خو واقعي معلومات به ونه لري. ډیموکراسي او بشري حقونه د متحدو ایالاتو په دننه کې هم تش په نوم دي. متحده ایالات چې د ډیموکراسۍ د نړیوالې سرمشریزې رهبري کوي، آیا د دغه هېواد خلکو د ځان لپاره د ډیموکراسۍ حالت خوښ کړی؟ په دې وروستیو کې د متحدو ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر انټوني بلینکن په یوه غونډه کې برخه درلوده او په ترڅ کې یې د جګړې ضد یوې مېرمنې ورڅخه پوښتنه وکړه، چې تاسې باید خپله ډیپلوماتیکه دنده په ښه توګه تر سره کړئ او له اړوندو خواوو سره خبرې اترې وکړئ. که تاسی د چین وړاندیز نه خوښوئ، د سولې لپاره ستاسی وړاندیز چېری دی؟ زموږ د هېواد خلک هیله لري، چې تاسې خبرې اترې وکړئ! دغه مېرمن خپل اواز لوړ کړ او غوښتنه یې وکړه، چې د متحدو ایالاتو اواز حکومت ته وړاندې کړي، خو د دوو قوي پولیسو لخوا له غونډې څخه وشړل شوه. د متحدو ایالاتو جګپوړي مامور په دې اړه هېڅ توضیحات ورنکړل. دغه ډول حالت ډېر ځله په متحدو ایالاتو کې رامنځته شوی او دغه ډول خلک همېشه د حکومت لخوا خوله بند شوي. رښتیني ډیموکراسي دا ده، چې خلک له جبري ځواک څخه وژغوري او د جبري ځواک له لارې د خلکو شړل نه دي. په هرو څو کلونو کې یو ځل د ولسمشریزو ټاکنو مراسم تر سره کول رښتیني ډیموکراسي نه ده، چې اکثر خلک خپلې رایې ورکوي، خو نور هېڅ لاره نه لري او د تګلارو د تدوین په بهیر کې د ګډون فرصت نه لري.د متحدو ایالاتو ډیموکراسي له ډېرو کمزورتیاوو نه ډکه ده او ډېرې ستونزې لري، د نورو هېوادونو لپاره د ډیموکراسۍ په پلمه هم ډېرې ناسمې کړنې تر سره کوي. د دوی لپاره دا ډېره بېړنۍ او مهمه مسئله ده، چې د هېواد په دننه کې د ډیموکراسي مسئله تنظیم کړي. که غواړي د ډیموکراسۍ په چارو کې د نړۍ د لومړي مشر دنده واخلي، باید وویل شي، چې هغوی یې وړتیا نه لري.

# ملي يووالی مو د بقا او استحکام ضامن دی...!

احسان

ملي يووالی د یوه هېواد د پرمختګ، سرتاسري امنيت او استحکام لپاره بنسټيز اصل دی، هغه ملتونه چې د ملي يووالي روحيه او انګيزه يې غښتلې وي، تر نورو هغو، چې له دې نعمت څخه برخمن نه دي، ډېر هوسا او مترقي ژوند لري.

د یوه هېواد په جغرافيايي جوړښت کې ګڼ شمېر قومونه او په بېلابېلو ژبو غږېدونکي خلک اوسېږي، طبيعي ده، چې ددې خلکو کلتور، ادب او د ژوند تېرولو اصول او کړنلارې به هم بېلابېلې وي، خو په ملي مسايلو کې بايد ټول يو ليدلوری ولري او ملي ارزښتونه بايد ټولو ته يو شان محترم او د قدر وړ وي. زموږ لرغونی او تاريخي هېواد هم د بيلابيلو نژادونو له اتباعو جوړ دی، هيڅ قوم له بل لوړ نه دی او نه هم د يو قوم وګړي د نورو په پرتله په وسائلو او امتيازاتو کې د لويې برخې خاوندان دي، ټول قومونه د همدې هېواد د بدن غړي دي او د هر يو په درد او تکليف سره هيواد متضرر کېږي.

د غربي ښکيلاګرو له شل کلن تاړاک وروسته اوس الحمدالله هېواد ازاد دی، فساد تر ټولو ټيټې کچې ته راکښته شوی، د هېواد ټولو وګړو ته له قومي، سمتي او ژبني توپير پرته پر يوه سترګه کتل کېږي، مرکزي حکومت حاکم دی او امنيت هم د پخوا په پرتله ډېر ښه دی. خو اوس هم ځينې پردي پالې او د پرديو استخباراتي ادارو لپاره کارکونکي داسې ګنګوسې او تبليغات کوي، چې ګويا د افغانستان اسلامي امارت ټولو وګړو ته د يو ډول حقونو د ورکولو ژمنتيا نه لري. دښمن غواړي په دغسې فعاليتونو او کړنو سره د افغان ملت ملي يووالی له منځه يوسي او دلته يو ځل بيا د تجزيې له کاره لوېدلې نظريه تغذيه کړي.

ددې لپاره چې د دغو خلکو هڅې له منځه يوړل شي او هيواد مو تل يو موټی او متحد پاتې شي د مخنيوي، ولس د ملي يووالي ټينګښت ته هڅول يې تر ټولو غوره او لنډه لار ده او موږ کولی شو، چې له دې لارې په ډېره لنډه موده کې او د تل لپاره ثبات ته ورسيږو. د ملي يووالي د ټينګښت لپاره حکومت، سياسي شخصيتونه ځينې مکلفيتونه لري، چې بايد ترسره يې کړي: حکومت مکلف دی چې د نظام په جوړښت کې د وړتيا، ظرفيت او مسلک پر اساس د هر قوم او ژبې خلکو ته ونډه ورکړي. له هر ډول تبعيض پرته اړتيا او امکاناتو ته په پام سره د هېواد په ټولو سيمو کې پراختيايي پروژې عملي کړي. هر افغان ته د زده کړو او روزګار زمېنه مساعده کړي، د ملت تر منځ د يووالي نقاط غښتلي او د بيلتون هغه له منځه يوسي او په تعليمي نصابونو کې د ملي يووالي پر اهميت او ارزښت ليکل شويو مضامينو ته ځای ورکړي. دغه راز ديني عالمان ، سياسي او ټولنيز شخصيتونه هم دنده لري، چې د خپلو شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته ترجيح ورکړي، ملت کې د يووالي او اتحاد لپاره کار وکړي او د وګړو د سياسي شعور او هېواد سره د مينې سطحه لوړه کړي.

که چېرې موږ هر يو د ملي يووالي په برخه کې خپل رسالت په سمه توګه سر ته ورسوو، تر ټولو غښتلی او متحد ملت کېدلی شو او بيا به د ټول عمر لپاره ان شاء الله تعالی د يو باثباته، غښتلي، په خپلو پښو ولاړ او پرمختللي هېواد درلودونکي يو.



# په رمضان کې له شريعته مخالف کارونه!

حسان مجاهد

په رمضان کې ځينې داسې کارونه دي چې له روژې سره ټکر دي او روژه د عبادت له دايرې څخه باسي او نن ورځ زيات شمېر مسلمانان په کې ښکېل دي چې دلته يې تاسو ته بيانوو:

**د پيشلمي پر مهال**

۱_ د پيشلمي پر مهال ډېر خوراک کول: مولانا اعزاز علي (رح) ليکلي دي «په پيشلمي باندې بايد له ډېر خوراک او ډول ډول خوړو نه پرهيز وشي؛ ځکه له روژې څخه موخه څه لوږه په ځان تېرول ده؛ ترڅو بډايانو ته د غريبانو حال معلوم شي.

۲_ پيشلمی د سهار په اذان سره پرېښودل: رسول الله ﷺ به ويل: تر هغه وخته پيشلمی کوئ چې عبدالله ابن مکتوم (رض) اذان کوي. نوموړی صحابي په سترګو ړوند و، ده به هغه مهال اذان کول چې ورته به وويل شو «سهار داخل شو!» له دې حديث څخه څرګندېږي چې پيشلمی د سپيدو په راختلو پای ته رسېږي او اذان د سپيدو لپاره يوه خبرتيا ده؛ نو بايد پيشلمی تر اذان وړاندې پرېښودل شي. [مخالفات رمضان ص۲۳]

۳_ وختي پيشلمی کول: سنت کار دادی چې پيشلمی بايد وځنډېږي او تر سپيدو را ختلو وړاندې وشي. انس (رض) وايي: رسول الله ﷺ به له موږ سره پيشلمی وکړ بيا به لمانځه ته ولاړ شو.... چې دلمانځه او پيشلمي ترمنځ به د پنځوسو اياتونو اندازه وخت و.

۴_ د سهار اذان وختي کول: ځينې کسان په عبادت کې د احتياط له امله د سهار اذان وختي کوي. ابن حجر (رح) ليکلي دي چې د روژه ماتې اذان ځنډول او د سهار اذان وختي کول؛ له سنته مخالفت دی، خير يې کم او شر يې زيات دی. [فتح الباري ۴/۱۹۹]

۵_ له پيشلمي وروسته سمدستي ويده کېدل او وروسته دسهار جماعت يا لمونځ پرېښودل.

**د روژه ماتې پر مهال**

۱_ د ماښام اذان ځنډول: دا هم له سنته مخالفت دی؛ ځکه رسول الله ﷺ فرمايي «.... روژه دار دي دلمر لويدو سره سم روژه ماتوي» [شيخان]

امام مروزي رح ويلي «د ټولو علماوو اتفاق دی چې له لمر لوېدو سره سم شپه داخله ده او روژه ماتول روا ده» [مختصر قيام الليل ص۵۸]

۲_ روژه ماتی ځنډول: دا هم له سنته مخالفت او له يهودو او نصاراوو سره موافقت دی. رسول الله ﷺ فرمايي «دين به تر هغه وخته ظاهره وي؛ ترڅو چې خلک په روژه ماتې کې بېړه کوي؛ ځکه يهودو او نصاراوو به روژه ماتی ځنډول» [احمد او ترمذي]

۳_ په روژه ماتې کې اصراف کول: ځينې کسان ټوله ورځ د روژه ماتې په ترتيب اخته وي، ډول ډول خواړه برابروي او دورځې په اوږدو کې هيڅ عبادت ته پاملرنه نه کوي.

۴_ د روژه ماتې وروسته لمونځ کور يا په خپل کاري ځای کې کول او جماعت ته نه تلل. رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چې اذان واوري او بيا هم له عذر پرته جماعت ته ولاړ نه شي؛ نو ده لره لمونځ نشته (ګواکې لمونځ يې نه وکړ). [ترمذي]

۵_ د روژه ماتې له امله د ماښام لمونځ وروسته کول او يا د روژې ماتې لپاره لمونځ په بېړه کول. په کار داده چې روژه ماتی په دوو مرحلو وشي، لومړی خورما او لږ نور خواړه، بيا جماعت کول او بيا وروسته خوراک کول.

۶_ دومره خوراک کول چې تراويحو کې په معده بوج شي او د عبادت خوند پيکه کړي.

**د تراويحو پر مهال**

۱_ تراويح لمونځ په بېړه ادا کول: تراويح لمونځ که څه هم سنت دی خو له فرضي لمانځه سره په احکامو، شرايطو او آدابو کې هيڅ توپير نه لري؛ بايد ډېري په آرام او اطمينان سره ادا شي.

۲_ د تراويحو له امله د ماخستن لمونځ په جماعت سره پرېښودل.

۳_ تراويح په نيمايي کې پرېښودل: رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چې له امام سره تراويح تر پايه ورسوي؛ دټولې شپې دعبادت ثواب يې په برخه ده. [رواه ترمذي]

۴_ تراويحو ته د بيړې له امله د ماخستن لمونځ پرېښول.

۵_ په تراويحو کې تر هغه وخته پورې کېناستل او خبرې کول چې امام رکوع ته ځي.


۶_ په تراويحو کې دومره اوږده سورتونه ويل چې خلک د تراويحو پرېښودو ته اړ باسي. په کار ده چې په تراويحو کې يوه سپاره ختم کيږي؛ ترڅو سنت هم په ځای شي او خلک هم په تکليف نه شي.

**بيلابيل مخالف کارونه**

۱_ دروژې له هغه احکامو او ضروري مسائلو څخه غفلت او ناخبري؛ چې زدکړه يې په هر مکلف مسلمان فرض عين دی.

۲_ د مشرانو لخوا ماشومانو ته د روژې تمرين نه ورکول. ماشومان که څه هم په روژه نيولو مکلف نه دي، خو بيا هم بايد له ماشومتوب څخه په روژو نيولو عادت شي.

۳_ يوازې په خوله روژه نيول او نور د غيبت، دروغ، بهتان، لهولعب، موسيقي او د نورو ناروا وو



هيڅ باک نه کول.

۴_ د ماسپښين او مازيګر د لمانځه پر مهال خوب کول او جماعت نه کول.

۵_ د ورځې په وروستيو کې مسواک په دې خاطر نه وهل چې د روژه دار دخولې هغه بد بوی له منځه وړي، چې الله تعالی ته تر مشکو خوښ دی. خو امام شوکاني رح ويلي « حق خبره داده چې مسواک روژه دار ته د ورځې په اول او آخر کې مستحب دی او دا دجمهورو علماوو مذهب دی» [نيل الاوطار ۱/۱۲۹]

۶_ له ماخستن وروسته شپه په قمار، لهو لعب، ناروا مجلسونو، موسيقۍ او د فلمونو په کتلو تيرول او ورځ بيا په خوب تېرول.

۷_ له هغه اولادونو څخه دمور او پلار غفلت چې قصداً روژه خوري، لمانځه کې سوستي کوي او په نورو ناروا وو بوخت وي.

۸_ دقرآن کريم تلاوت ته دومره توجه نه کول لکه څومره چې په رمضان کې په کار ده.

۹_ ځينې مسنونه کارونه پرېښودل لکه تراويح، دمياشتي په اخري لسو ورځو کې عبادت او اعتکاف.

۱۰_ له توان سره بيا هم له نيکو کارونو څخه غفلت کول لکه د مسلمانانو حوائج پوره کول، د بې وزلو، کونډو او يتيمانو سره مالي مرسته کول.

۱۱_ د سفر يا بل عذر پرمهال؛ د نورو روژه دارو په مخ کې روژه خوړل.

۱۲_ په خوله او پوزه باندې د اوبو رغړولو پر مهال مبالغه کول. رسول الله ﷺ فرمايي« د خولې او پزې په مينځلو کې مبالغه په کار ده، پرته له روژه داره» [رواه نووي]

**په رمضان کې دښځو مخالف کارونه**

۱_ رمضان د نورو مياشتو سره يو شان ګڼل او هيڅ امتياز نه ورکول.

۲_ رمضان ته ځان نه چمتو کول لکه د ګناهونو پرېښودل، ډېر عبادت کول او رښتيني توبه ايستل.

۳_ رمضان د خوراک او څښاک مياشت ګڼل، ډول ډول خواړه برابرول؛ تردې چې ځينې ښځې په رمضان کې هغه کتابونه پېري چې دخوړو په ترتيب او پختن ليکل شوي دي. ځينې ټوله ورځ خپل قيمتي وخت د روژه ماتې په ترتيب تير کړي او په ټوله ورځ کې هيڅ ذکر او تلاوت و نه کړي.

۴_ خپلمنځي ملاقاتونه او مجلسونه کول، کم تر کمه يو ساعت وخت له کوره بهر وي چې په دومره وخت کې دقرآن کريم دوې سپارې تلاوت کيدای شي.

۵_ ټوله ورځ ټليفوني خبرې کول، غيبت او چغلګري کول. رسول الله ﷺ وايي:« څوک چې دروغ، په دروغو عمل او ناپوهي پرينږدي؛ نو الله تعالی دده خوراک او څښاک پرېښودو ته هيڅ اړتيا نه لري»

۶_ بازارونو ته له ضرورته پرته ډېري تلل او د حجاب نه مراعاتول.

۷_ د مياشتنۍ مريضي پر مهال همدارنګه د اولاد له زيږون وروسته؛ په عبادت کې سوستي کول؛ سره له دې چې داسې ښځې ته اذکار، دعاګانې او قرآن کريم لوستل او اوريدل روا دی، يوازې لاس ور وړل نه دی روا. بايد ذکرونو، دعاګانو او د ګټورو کتابونو مطالعې ته مخه کړي او له معاصرو وسائلو څخه د قرآن کريم ترجمه او د علماوو بيانونه واوري.

۸_ د رمضان په وروستيو لسو ورځو کې داختر لپاره چمتوالی کول، هره ورځ بازارونو ته تلل او هلته په خياطانو او دکاندارانو ګرځيدل. عائشه رضی الله عنها وايي: رسول الله ﷺ به د رمضان په وروستيو لسو ورځو کې خپله بستره وترله، شپې به يې عبادت کول او دخپلې کورنۍ وګړي به يې هم را پاڅول.

۹_ له ماخوستن وروسته تر سهاره کېناستل او له سهاره نيولې بيا تر ماسپښينه پورې خوب کول. رسول الله ﷺ به له ماخستن وروسته خبرې بدې بللې.

۱۰_ دماشومانو په اړه غفلت کول او په عبادت يې نه عادت کول. ماشومانو ته بايد په ماشومتوب کې دعبادت روحيه ورکړله شي او په روژو او تراويحو يې عادت کړو.

۱۱_ ځينې ښځې تر څلويښتو ورځو وړاندې له نفاس (هغهويني چې له ولادت وروسته ښکاره کيږي) څخه پاکې شي، خو بيا هم روژه نه نيسي. خو داسې نه ده بلکې کومه ښځه چې تر څلويښتو ورځو مخکې له نفاس څخه پاکه شي؛ غسل دې کوي، لمونځ دې کوي او روژه دې نيسي [مخالفات رمضان ص۵۷]

۱۲_ ځينې ښځې له خپل مياشتني عادت څخه تر سپيدو را ختلو وړاندې پاکې شي او دغسل وخت پيدا نه کړي؛ نو د هغې ورځې روژه نه نيسي. حال دا چې په دې صورت که په ښځه باندې ددې ورځې روژه لازمه ده.

۱۳_ ځينې ښځې د روژه ماتې په ترتيب بوختې وي، چې دماښام لمونځ ډېر وروسته کوي.

په کار ده چې له پورته ټولو کارونو څخه ډډه وشي؛ ترڅو روژه مو قبوله شي او زموږ لپاره اخروي ذخيره جوړه شي.

## شعر و ادب

### غزل

**محمد عطار**

ای بی نشان محض نشان از که جویمت
گم گشت در تو هر دو جهان از که جویمت
تو گم نه‌ای و گمشده تو منم ولیک
تا یافت یافت می‌نتوان از که جویمت
دل در فنای وحدت و جان در بقای صرف
من گمشده درین دو میان از که جویمت
پیدا بسی بجستمت اما نیافتم
اکنون مرا بگو که نهان از که جویمت
چون در رهت یقین و گمانی همی رود
ای برتر از یقین و گمان از که جویمت
در بحر بی نهایت عشقت چو قطره‌ای
گم شد نشان مه به نشان از که جویمت
تا بود که بویی از تو بیابد دلم چو جان
بیرون شد از زمان و مکان از که جویمت
در جست و جوی تو دلم از پرده اوفتاد
ای در درون پرده جان از که جویمت
عطار اگرچه یافت به عین یقین تورا
ای بس عیان به عین عیان از که جویمت
ای بس عیان به عین عیان از که جویمت

### غزل

**شهریار**

سری به سینه خود تا صفا توانی یافت
خلاف خواهش خود تا خدا توانی یافت
در حقایق و گنجینه ادب قفل است
کلید فتح به کنج فنا توانی یافت
به هوش باش که با عقل و حکمت محدود
کمال مطلق گیتی کجا توانی یافت
جمال معرفت از خواب جهل بیداریست
بجوی جوهر خود تا جلا توانی یافت
تحولی است که از رنجها پدید آید
نه قصه‌ای که به چون و چرا توانی یافت
تو حلقه بر در راز قضا ندانی زد
مگر که ره به حریم رضا توانی یافت
ز قعر چاه توان دید در ستاره و ماه
گر این فنا بپذیری بقا توانی یافت
کمال ذوق و هنر شهریار در معنی است
تو پیش و پس کن لفظی کجا توانی یافت

### د قربانيو نظام!

**رضوان الله فيضاني**

مونږ راوستی سپین نظام په قربانیو
دا به ساتو تل مدام په قربانیو
مونږه ولمانځل په شوق دا شل کلونه
هر سهار او هر ماښام په قربانیو
له عمر، عثمان، علي نه راشروع دی
دا مسیر او سپین مرام په قربانیو
کېږي خوار لس سوه کاله راروان دی
غیرتي دین پاک اسلام په قربانیو
زړونه مات نکړئ د ننګ او جنګ ملګرو
ځو به وړاندې ګام پر ګام په قربانیو
دا د نن او د پرون خبرې نه دي
مونږ پاللی هر قیام په قربانیو
شهادت عظیم مقام څه ټوکې نه دي
ګټل کېږي یې خوږ جام په قربانیو
(فیضاني) دا قرباني زمونږ میراث دی
مخته وړو د دین پیغام په قربانیو

# د نبوي دور فدايان

**دوهمه برخه / دادمحمد ناوک**

د اسلام بلې شوې ډیوې لا د مکې کوڅې پوره نه وې رڼا کړې، خال خال به د کوم کور له منځه د قرآن کریم مترنم تلاوت واورېدل شو، د مسلمانانو په زړونو کې دا هیله وه، چې یو وار په خلاص کومي او رڼه میدان د قریشو سردارانو ته د قرآن کریم تلاوت ور واوروي، خپله زړورتیا ور وښیي او د قرآني عظمت او اغېز ننداره پرې وکړي.

په مسلمانانو کې د نوم خلک ډېر کم و، نور تول یا مریان یا بې کسه ځوانان و، ځکه خو داسې ننداري ته ور وړاندې کېدل د مرګ په پوله درېدل و؛ خو سره له دې هم دې سر ښندنې ته یو ځوان تیار وواهه!

دا ځوان نه زورور قومي ملاتړ لري، نه داسې غښتلي بادی چې د ابوجهل پر تازینو یې پروا نه شي، دی دومره ډنګر و، چې یوه ورځ په ونه کې خوت، ملګرو یې د ده پښو ته وکتل، سره یې وخندل، رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې پوی شو، ویې فرمایل: تاسې یې نریو پونډیو ته خاندئ، والله د الله جل جلاله پر وړاندې د احد تر غره درنې دي!

هو!

دا فدایي، چې حتی د ابوجهل، ولید بن مغیره، امیه بن خلف او د قریشو د ټولو زورورو او سلامت پارلمان - دارالندوه - مخې ته یې، په رڼا ورځ، لومړی ځل او په لوړ غږ د الرحمن مبارک سورت تلاوت کړ، حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه وادي غږ د هغوی پښې ولړزولې، پر خپلو غوږونو یې باور نه راته، د دې ډنګر شپونکي ځوان دې جرئت ته حیران و، د دوی بالفور غبرګون له خپل طبیعت سره برابر همدا و، چې سلامت پارلمان یې د لویوالي له دعوې سره سره د دې ځوان پر وهلو را ټول کړ، د بې هوښۍ تر بریده یې وواهه، دا مبارک بدن په وینو ولړل شو، خو قلباً یې هغه سکون او غرور احساساوه، چې که قریشو درک کړی وای، ښایي سینه یې ور څېرلې وای!

# د رمضان پنځم د تاریخ له کړکۍ څخه!

**عبدالرحمن محمود**

په پنځم د رمضان ، عبدالرحمن الاموي پیدا سو ، چې په اندلس کې یې اموي خلافت وروسته تر هغه قائم کړ، چې په دمشق کې یې په ۱۱۸ هجری کې سقوط کړی وو ، پر اندلس باندې دري قرنه، اموي خلافت، حکومت وکړ.

په پنځم د رمضان فاطمینو پر مصر جنګ شروع کړ ، چې په (۱۷) د رمضان ټوله مصر فاطمینو ونیوه، او خپل فاطمي حکومت یې اعلان کړ، فاطمي حکومت هغه ظلمونو او وحشتونه وکړه چې نظیر یې په تاریخ کې ډېر کم پیدا کیږي، تر ټولو بدترین ظلم چې دوی وکړ هغه د اهل السنة والجماعة د خپل وخت د مشهور امام، ابوبکرالنابلسي په شهادت رسول وه ، هغه په دې وجه چې امام نابلسي کله ددې روافضو ظلم او زندقت ولیدی نو ویې ویل که زما سره لس غیشې وي نه غیشې به پر روافضو وولم ، او یو غیشی به د روم پر کفارو وولم ، د فاطمینو مشر شیطان معز ته چې کله دا خبره ورسیده امام نابلسي یې حاضر کړ او ورته ویې ویل چې تا رښتیا داسې خبره دې کړې ؟ هغه ورته وویل چې نه، بلکې ما بل ډول خبره کړې ده ، هغه ورته وویل څنګه خبره کړې ده؟ ده ورته وویل ما ویلي دي که زما سره لس غیشې وي نه غیشې به پر تاسو وولم ، هغه پاته یو به هم پر تاسو وولم ، ځکه چې تاسو دین منحرف کړ ، صلحاء مو ووژل.

معز لدین الشیطان ددې خبرې په اوریدو سره سخت په قهر سو ، او خپلو جلادانو ته یې امر وکړ چې تر شدید تعذیب وروسته یې په ژوند د بدن څخه پوست وباسئ.

اوله ورځ یې وګرځوی چې هر څوک د فاطمینو څخه بغاوت کوي د امام نابلسي په ډول عمل به ورسره کیږي، په دوهمه ورځ یې په دورو ووهی ، په دریمه ورځ یې قصابان ورته راوغوښتل مګر مسلمانو قصابانو ټولو انکار وکړ ، بیا یې یو یهودي قصاب ورته راوست ، د سر څخه شروع په وکړه تر څو چې قصاب یې و مخ ته را ورسید ، امام نابلسي تقبله الله د رب عزوجل په حمد او ثناء مصروف ؤ ، آخیر د هغه یهودي قصاب زړه وربانـدي نرم سو بیا یې امام نابلسي پر زړه باندي په خنجر وواهه او شهید سو.

خلاصه دا چې د مصر هره کوڅه و امهات المؤمنین او صحابه کرامو ته په ښکنځلو او بد و رد ویلو ډکه وه ، همدا د ګستاخۍ او سوء ادب سلسله روانه وه تر څو چې رب عزوجل د صلاح الدین یوبي رحمه الله په څېر شخصیت پر دې ملعونینو باندي مسلط کړ ، او د فاطمینو ریښې یې و ایستلي ، له مصر څخه یې داسې ورک کړل لکه چې قطعا دلته د فاطمینو واکمني نوي تیره شوي ، مصر یې بیرته و خپل اصلي حالت ته وګرځاوه ، مصر بیا د اهل السنة والجماعة کور سو ، الله رب العزت دې و دې نه هیریدونکي اتل ته لوړ درجات او مراتب ور نصیب کړي.

مګر د تأسف ځای دادی چې اوس هم په مصر کې بعضې سړکونه او ښارونه د فاطمینو مشر ( معز ) ته منسوب کیږي ، شارع معز یا قاهرة المعز نور همداسې ډېر ځایونه شته ، په کار خو دا وه چې شارع صلاح الدین یا قاهره صلاح الدین ویل کیدای.

صرف وجه داده چې په عصري تعلیمي مراکزو کې د اسلام تاریخ نه لوستل کیږي ، د اسلام د مجد او برم قیصې نه ورته بیانیږي.

په پنځم د رمضان د انطاکیه ښار د ظاهر بایبرس پر لاس فتح سو.

یادونه: دا حوادث په مختلفو کلونو کې شوي، خو البته چې پر پنځم د رمضان وه، په همدې مناسبت مو سره یو ځای کړې.

# روژه د برکتونو میاشت !

**دریمه برخه / مولوي نورالحق مظهري**

د روژې میاشتي برکتونه:

شلورم برکت:

بل برکت ددې میاشت دا دی چې پدې میاشتي کې شیطانان تړل کیږي تر څو د الله پاک مخلص بندګان د هغوی د وسوسو او فتنو څخه نجات پیدا کړي لکه په حدیث کې چې راځي: وصُفّدت الشیاطین.[صحیح مسلم ۲٥٤۷] یعني د روژې د راتللو سره شیطانان تړل کیږي.

د شیطانانو د تړلو دوې معناوې دي یا دا چې ټوله هغه شیطانان به تړل کیږي کوم چې په نورو وختونو کې خلاص وه او په بندګانو یې ګناهونه کول یا پدې معنی سره چې د شیطانانو مشران به تړل کیږي کوم چې د انسانانو د بربادۍ لپاره او په انسانانو د ګناه کولو لپاره یې خپله هم کارونه کول او خپلو نورو افرادو ته یې هم مسئولیتونه ورکول.

کله چې الله پاک شیطانان وتړي نو یواځې نفس پاتیږي چې انسان د ګمراهۍ لوري ته بیایي د نفس سره مقابله باید انسان په خپل توان سره وکړي، خپل نفس ضعیفه کړي او غوښتني یې ونه مني.

خو که څوک سمه روژه ونیسي، د سمي روژې د نیولو سره نفس خپله ضعیفه کیږي.

# د میړې جرم!

**فرید احمد (مبارز)**

ابن قیم (رحمة الله علیه) فرمایي: د یوې وني سیوري ته ناست وم، یو میږی مي ولیدی چې دلته نږدې روان وو او غوښتل یې چې پروت د ملخ وزر د ځان سره یوسي. کله چې د وزر په وړلو ونه توانیدی نو تیز ولاړی غار ته ننوت له هغې خوا یې د میږیانو لښکر را وویست کله چې دوی وزر ته نیږدې سول، نو ما وزر ځیني را پورته کړ، دوی ډېر وګرځیدل خو شی یې ونه موند. تر سترړیا وروسته غار ته ننوتل خو یو مېږی لا ګرځېدی.

فکر کوم هماغه لومړنی مېږی به وو ما هم وزر ورته کښېښود ده چې وزر ولیدو، بیا تېز ولاړ خو دا ځل یې هلته ځنډ وکړ.

فکر کوم هغوی ته یې قناعت ورکاوه ځکه اول ځل یې خبره رښتیا نه سوه، مګر دا وار د اول په څیر میږیان نه وه، بلکې لږ را ووتل، ما هم د ملخ وزر بیا پورته کړ، دوی ډېر وګرځیدل ستړي سول او ولاړل، خو یو میږی بیا هم ګرځیدی فکر کوم هماغه میږی وو، چې دوی یې دوه ځله راوغوښتل.

ما بیا وزر مخې ته ورته کښېښود کله چې یې وزر وموندی، بیا په بیړه ولاړی، خو داخل بیخي ډېر وځنډیدی، فکر کوم هغوی بیخي قناعت نه ورسره کاوه، ځکه دا دوهم ځل وو چې خبره یې درواغ سوه دا وار اووه (۷) میږیان ورسره راووتل ما هم د تیر په څیر وزر ځیني را واخیست هغوی ډېر وګرځیدل.

پوه سوم چې دوی هماغه میږي ته ډېر په قهر سول پر راټول سول او میږی یې ټوټه ټوټه کړ، سر او پښې یې ځیني جلا کړل.

ما د دوی مخته وزر کښېښود دوی چې وزر وموند بیرته پر خپل ملګري را غونډ سول معلومیده چې ډېر غمجن وه، او په خپله کړنه سخت خواشیني وه، مګر وخت یې د لاسه وتلی وو. ابن قیم (رحمة الله علیه) وایي: زه سخت خپه سوم چې دا مي څه وکړل؟! د پرېشانۍ څخه تنګ سوم او د خپل استاد ابن تیمیه (رحمة الله علیه) څخه مې وپوښتل چې ما خو داسې وکړل، هغه راته وویل: تا ته به الله ﷻ بخښنه وکړي، مګر ګوره چې بل وخت داسې ونه کړې او کومه کیسه چې دې وکړه، نو سبحان الله پاکې ده هغه ذات لره چې میږیانو ته یې هم د دروغو قباحت ښودلی دی او د درواغجن په سزا یې پوه کړي دي. یا الله! مونږ ته د رښتیا ویلو توفیق راکړې.

# دایکندي کې د ترافیکي پېښې له کبله لس تنو ته مرګ ژوبله اوښتې

د دایکندي د ترافیکو ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په شهرستان ولسوالۍ کې د یوې ترافیکي پېښې له امله ۸ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.
د دایکندي د امنیې قوماندانۍ د مطبوعاتو آمرغلام علي جاوېد د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې یو تونس ډوله موټر د شهرستان ولسوالۍ له غاسور کلي څخه د ولسوالۍ مرکز په لور روان و، چې له واټ څخه وتلی او چپه شوی دی.
هغه زیاته کړه چې په دې پېښه کې ۲ تنه مړه شوي او د ۳ ماشومانو په ګډون ۸ تنه ټپیان شوي دي.
د یادونې وړده چې د پېښې ټپیان د شهرستان ولسوالۍ روغتون ته لېږدول شوي.

## یونیسف: ناچاودو توکو د افغان ماشومانو ژوند له ګواښ سره مخ کړی

د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د ملاتړ صندوق یا یونیسف ویلي، په افغانستان کې د پاتې ناچاودو توکو له کبله د ماشومانو ژوند له ګواښ سره مخ دی. یادې ادارې تېره ورځ په یوه خبرپاڼه کې ویلي، په ۲۰۲۲ میلادي کال کې له ۷۰۰ څخه زیاتو ماشومانو ته له جګړې څخه د پاتې شویو ناچاودو توکو په چاودنو کې مرګ ژوبله اوښتې. په خبرپاڼه کې راغلي، یوازې تېره اوونۍ اته افغان ماشومان د ناچاودو توکو له کبله وژل شوي دي. یونیسف زیاته کړې، هڅه کوي چې د افغان ماشومانو د ژغورنې لپاره له اړوندو ادارو سره په ګډه کار وشي. دغې ادارې ویلي، د ماینونو د خطرونو مخنیوي په اړه د عامه پوهاوي هڅې ګړندۍ کوي او دغه راز به د هغو کورنیو او ماشومانو ملاتړ وکړي چې ماینونو اغېزمن کړي وي.

## د پروان د احصائیې ریاست ...

کولو څخه ۱۶ میلیونه ۱۴۰ زره افغانۍ عواید راټول کړي، چې د پروان مستوفیت دغه ریاست ته ۱۵ میلیونه افغانۍ هدف ټاکلی و. د یادونې وړده چې د پروان ولایت د احصایې او معلوماتو ریاست د برېښنایي پېژندپاڼو د وېش دوه فعاله مرکزونه لري، چې یو یې د پروان په مرکز او دویم یې په سیاه ګرد ولسوالۍ کې دی، چې د برېښنایي تذکرو غوښتونکي کولای شي د یوې اوونۍ په اوږدو کې برېښنایي تذکرې ترلاسه کړي.

## ساختمان ۷ مکتب در ...

شاجوی، میزان و شینکی زابل با حمایت مالی صندوق حمایت از کودکان و به همکاری تخنیکی موسسه بازسازی لوی قندهار تکمیل و به بهره برداری سپرده شدند. با بهره برداری از این ساختمان ها، برای حدود شش هزار دانش آموز محیط مناسبی آموزشی فراهم شده است.

## جوزجان، بامیانو او غزني ...

لخوا په ۲ زره ۲۰۰ بې وزلو کورنیو د خوراکي توکي ووېشل شول، چې په کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو وړه، ۵ لېټره غوړي، ۶ کیلو دال، د ماشومانو خواړه او یوه اندازه مالګه ورکړل شوه.

## بادغیس او لغمان کې ...

د ادارې سیدا په مرسته یې په لغمان ولایت کې درې زره کورنیو ته د څنباک پاکې او دوامداره اوبه برابرې کړې دي. یونېسف ویلي، تر ځمکې لاندې پاکو اوبو د رایستلو لپاره یې د برمو د اړتیا وړ برښنا لپاره څلور سوه سولري پنیلونه نصب کړي دي. یونېسف ویلي، پاکې اوبه د خلکو ژوند ژغوري.

## د ایران سرکنسول له افغانستان ...

ورته مهال مولانا نور احمد اسلام جار وویل، چې هر هغه اقدام چې د دواړو هېوادونو په ګټه وي اسلامي امارت یې ملاتړ کوي.
نوموړي دغه راز د هرات - خواف اوسپنې پټلۍ چارو د ګړندي کولو او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو پیاوړي کول یو مثبت ګام وباله.

## در جلسهٔ کمیسیون تنظیم ...

(جلسه سوم) با حضور اعضای کمیسیون تنظیم تشکیلات و معاشات، مولوی احمد جان بلال نمایندهٔ دفتر مقام امارت اسلامی افغانستان، قاری صاحب دین محمد حنیف سرپرست وزارت اقتصاد و نماینده کمیسیون اقتصادی، ملا حمیدالله آخندزاده سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی، حاجی نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت، مولوی عبدالرشید شاروال شهر کابل، حاجی ملا ناصر آخند معین گمرکات وزارت مالیه با متخصصین تخنیکی و مسلکی آن وزارت، مولوی عبدالکریم فاتح معین تخنیکی وزارت فواید عامه، محمد یونس مهمند نماینده اتاق تجارت و سرمایه گذاری، شیرباز کمین زاده رئیس اتاق صنایع و معادن، شیرین آغا سخی سرپرست اتاق پیشه وران، عبدالمنان حیدری رئیس عامل اتحادیه قالین، حاجی اختر محمد احمدی رئیس اتحادیه میوه تازه، انجنیر محمد نصیر رحیمی رئیس شرکت دولتی نفت و گاز و نمایندگان اتحادیه صرافان، زرگران و تیل فروشان برگزار گردید.در این جلسه در مورد گزارش کمیتهٔ تخصصی مؤظف شده؛ پیرامون تخفیف مالیات زرگران، صرافان، پوهنتون ها و مکاتب خصوصی، میوه فروشان، قالین فروشان و تیل فروشان (تانک‌های تیل)، ایجاد سهولت پیرامون اخذ جوازها، تشویق و توجه ویژه بر تجاران، صنعت کاران و کسبه کاران، بحث همه جانبه صورت گرفت و در اخیر از طرف کمیسیون پیرامون موارد یاد شده تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## کشته شدن فرد شماره ...

مولوي ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی ، در ۲۷ حوت سال گذشته از حمله بر سه مخفیگاه داعش در شهر مزارشریف نیز خبر داده بود.ریاست استخبارات همچنان از بازداشت داعشی‌هایی که در شهادت داوود مزمل، والی سابق بلخ دست داشتند، در فاریاب خبر داده است.به گفتهٔ این ریاست افراد بازداشت شده در حملاتی در کابل، بلخ و فاریاب دست داشتند.

## استخراج ماهوار ۲ هزار ...

چوپان کشف شد و در سال ۱۳۵۰ هـ.ش به تصدی تبدیل شد و بیشترین تولید آن در سال ۱۳۶۶ هـ.ش یکصدو شصت هزار تُن و کمترین میزان تولید آن در سال ۱۳۷۰ هـ.ش ده هزار تُن بود.
درحال حاضر در این معدن، دو صد و شصت و نُه تن مصروف کار اند.

# دفاع وزارت: یوه بله الوتکه هم ترمیم او فعاله شوه



دفاع وزارت وایي، چې د دغه وزارت د هوایي ځواک قوماندانۍ انجنیرانو او تخنیکرانو یوه بله روسي الوتکه ترمیم او الوتنې ته چمتو کړې چې ازمایښتي الوتنه یې هم په بریالیتوب سره ترسره کړې ده. دفاع وزارت ویلي، چې د تخریب شویو څرخکو او الوتکو ترمیم ته به ادامه ورکړي. یاده دې وي، چې د دغه وزارت د هوایي ځواک قوماندانۍ انجنیرانو او تخنیکرانو له دې وړاندې شاوخوا ۶۰ ډېرې له کاره لوېدلې څرخکې او الوتکې بېرته رغولې دي.

# کابل کې د ۱۸ په زړه سوري ماشومانو درملنه کېږي



د افغاني سرې میاشتې ټولنه وایي، پرون یې په کابل کې ۴ روغتونونو ته په زړه سوري ۱۸ ماشومان د عملیات او درملنې لپاره معرفي کړي دي. د دې ټولنې ویاند عرفان‌الله شرفزوی ویلي، دا ماشومان د افغانستان د بېلابېلو سیمو اوسېدونکي دي. د شرفزوي په خبره، د دې ماشومانو درملنه وړیا کېږي، خو لګښت یې د افغاني سرې میاشتې ټولنه ورکوي. د افغاني سرې میاشتې ټولنې د معلوماتو پر بنسټ، په زړه سوري د هر ماشوم په درملنه له ۸۰۰ امریکایي ډالرو تر ۲۰۰۰ امریکایي ډالرو لګښت راځي. تېره اونۍ هم دې ټولنې ۱۸ په زړه سوري ماشومان کابل کې یو شمېر روغتونونو ته درملنې او عملیات لپاره معرفي کړي وو.

# بازداشت سه تن به اتهام سرقت در بامیان

پولیس بامیان، سه تن را به اتهام سرقت اجناس یک منزل بازداشت کردند.
محمد خوانی رسا آمر مطبوعات قومندانی امنیه بامیان به آژانس باختر گفت که سه تن به اتهام سرقت اجناس یک منزل از مربوطات حوزه چهارم امنیتی شهر بامیان، بازداشت شدند.
از نزد سارقین، دو قبضه برچه، چهار سیت موبایل و مقداری اجناس سرقت شده دیگر به دست آمده است.

## لرې پرتو سیمو کې قابله . . .

مسلکي زده کړې نه‌لري او هدف یې دا دی چې په دې سیمو کې ښځې د امیندوارۍ ښځو خدمتونو ته لاس‌رسی ولري. دې کمېشنرۍ نه‌دي ویلي چې دغه پروګرامونه به په کومو سیمو کې تطبیقوي او څومره ښځو ته به د قابلګۍ مسلکي زده کړې ورکوي، خو یوازې دومره یې ویلي چې افغانستان په اسیا کې د میندو د مړینې تر ټولو لوړه‌کچه لري. د روغتیا نړیوال سازمان تېره میاشت په یوه راپور کې ویلي و، د ۲۰۲۰ کال شمېرې ښیي چې په افغانستان کې د زیږون پر مهال له یولک امیندوارو مېرمنو ۶۲۰ یې مړې شوې دي.

## د افغانستان بانک . . .

په یوه خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي دي: د افغانستان بانک د غیر بانکي مالي مؤسسو په ځانګړې توګه د صرافیو او پولي خدمتونو د روڼتیا، ښه تنظیم او څارنې په موخه اړوند مقررات تعدیل او له معیارونو سره سم، لازم شرایط وضع کړي دي.
په خبرپاڼه کې راغلي دي: د افغانستان بانک له نویو شرایطو سره سم، ټول انفرادي جوازونه فسخ کړي او د تېر کال په بهیر کې یې ۸۷۶ صرافانو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو ته شرکتي جوازونه ورکړي، چې د هغوی کړنې معیاري او په کړنو کې یې روڼتیا او اسانتیاوې رامنځته شوې دي.
د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک، د بانکي سکتور ترڅنګ، د غیر بانکي مالي مؤسسو چې صرافان، د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي، د برېښنایي پیسو، تادیاتي او د وړو پورونو مؤسسې پکې شاملې دي؛ د تنظیم او پر کړنو د څارنې مسئولیت پرغاړه لري.

## افغان سوداګر په انفرادي . . .

خونې د مدیره پلاوي غړي خانجان الکوزی د دې کار لامل د سوداګرو د عاید کموالی ښیي او وایي، شرکتونه له بې وزلو کورنیو سره د خپل توان تر حده مرسته کوي. د افغانستان د صرافانو سراسري ټولنه هم وایي چې سږ کال به د روژې په میاشت کې خپلې مرستې پر اړمنو کسانو ووېشي.

## اسلامي امارت د لوبغاړو . . .

دفتر په یوه خپاره کړي پیغام کې ویلي: د پاکستان پر وړاندې د افغان کرکټ ملي لوبډلې پرلپسې او تاریخي بریا مو مبارک شه. د افغانانو دې بریا وښوده چې دوی په کمو او د نړیوالو په پرتله په نشتو امکاناتو هم د پرمختګ وړتیا لري.
په دې پیغام کې راغلي، چې د افغانستان اسلامي امارت له خپلو لوبغاړو سره ولاړ دی او ژمن دی چې د تېر په څېر به د دوی د وړتیاوو لوړولو لپاره ټولې ممکنه هڅې کوي او موږ د کرکټ اتلانو د لا بریا هیلې لرو او په پوره اخلاص ورته دعاګانې کوو.

## ایران دې له افغان کډوالو سره ښه . . .

چارو وزارت مالي او اداري مرستیال محمد ارسلاح خروټي د ایران له سفیر څخه وغوښتل، چې په تېرو ناستو کې چې د افغان کډوالو په اړه کومې هوکړې شوي، عملي کړي.
د سرچېنې په وینا، ایران سفیر حسن کاظمي قمي وویل، چې موږ د افغان کډوالو سره ښې اړیکې لرو او تل هڅه کوو، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې لا نږدې او په هغه هېواد کې به د مېشتو افغان کډوالو شته ستونزې له اړوندو چارواکو سره شریکې کړي.

## شاروالی کابل نزدیک . . .

کردن شهر کابل به یک شهر پایدار همواره کوشیده اند که در راستای محیط زیست پایدار و بهتر، اقتصاد پویا، ارائه خدمات معیاری، فرهنگ عالی شهری و زیربناهای که جوابگوی نیاز مندی‌های شهر در دراز مدت باشد، تلاش و فعالیت کند.
نعمت الله بارکزی نمایندهٔ شاروالی کابل، در صحبت هایش پیرامون کار کرد های بخش های مختلف این نهاد در یک سال گذشته معلومات داده گفت: شاروالی کابل، در سال ۱٤۰۱ از منابع عایداتی خود ٤ میلیارد و ۳۰٦ میلیون و ۹۷۵ هزار و۲۰۰ افغانی به دست آورده است و درسال ۱٤۰۰عواید این نهاد یک میلیارد و ۲۸٦ میلیون و ۵۷۵ هزار و ۳۰۳ افغانی بود.
وی گفت که عواید شاروالی کابل در سال ۱٤۰۱ نسبت به سال ۱٤۰۰ چندین برابر افزایش یافته است و عواید این نهاد در کار پروژه های مختلف به مصرف می رسد.
او در رابطه به کار کرد های شاروالی کابل، در بخش های ساختمانی، اعمار زیربنا های شهری، ارائه خدمات شهری به شهروندان، پلان گذاری توسعه شهری، امور اجتماعی و فرهنگی و همچنان امور مالی، عواید و اداری، توضیحات داد.
بارکزی افزود؛ در یک سال گذشته، به طور مجموعی ۳۰ هزار و ۲۲۷ متر سرک های عمومی و فرعی به شکل اسفالت، کانکریت و سنگفرش توسعه داده شده و اعمار گردیده است، هزارها متر کانال ساخته شده است، بیش از یکصد و ۹۰ هزار اصله نهال غرس شده، ۳۳۰ هزار و ۸۵۰ تن زباله از نواحی مختلف کابل جمع آوری و به خارج از شهر انتقال و دفن شده است.
وی همچنان ،در رابطه تنظیم مارکیت ها به منظور نظم شهری؛ تنویر، خط اندازی و کتاره شانی کنار جاده ها و طرح و تطبیق برنامه های شهری شاروالی کابل، نیز معلومات داد.
بارکزی گفت: در سال جاری' شاروالی کابل، برنامه دارد که کار ۱۵۰ پروژهٔ شهری را در بخش‌های سرک سازی، ساختمانی، مدیریت آب، بهبود وضعیت تنظیفی و شماری از بخش های دیگر در شهر کابل، آغاز و تطبیق کند که هزینه این پروژه ها بیش از ۵ میلیارد افغانی تخمین شده است.

Shariat

Twice printed in week

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Tuesday 28 March 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 144


# کشته شدن فرد شماره دوم داعش خراسان و دو عضو کلیدی دیگر این گروه در بلخ



ریاست عمومی استخبارات امارت اسلامی روز گذشته اعلام کرد که نیروهای امنیتی طی عملیاتی، «سه عضو مهم» گروه داعش را در بلخ به کام مرگ فرستادند.

به گفتهٔ این ریاست، مولوی ضیاالدین، والی قبلی و فرد شماره دوم داعش، ابوعمر افریدی، یک عضو شورای شاخه خراسان و استاد سلمان تاجیکستانی، یکی از مسوولان آموزش‌های نظامی داعش از بین رفته اند.

ریاست عمومی استخبارات می‌گوید که، مولوی ضیاالدین قبل از شهاب المهاجر «والی داعش برای خراسان» و «مسئول امور اداری و قضایی» داعش بوده است.

ریاست استخبارات گفته است که استاد سلمان شهروند تاجیکستان و از متخصصان تربیت نظامی و ساخت مواد منفجره بود.

این دومین عملیات امارت اسلامی علیه گروه داعش در ولا یت بلخ در یک هفته گذشته است. ص۵

# در جلسهٔ کمیسیون تنظیم تشکیلات و معاشات تصامیم مهمی اتخاذ گردید

شریعت: جلسهٔ کمیسیون تنظیم تشکیلات و معاشات روز گذشته به ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان، بر اساس هدایت عالیقدر امیر المؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوی هبة الله آخندزاده حفظه الله، دایر گردید.این جلسه به ادامهٔ جلسات قبلی ص۵



# د ایران سر قونسل له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا غوښتنه وکړه



شریعت: د هرات والي مولانا نور احمد اسلام جار د ایران اسلامي جمهوریت له سر قونصل محمد صدیقي فر سره په کتنه کې د دواړو لوریو ترمنځ د اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

د دغه کتنې په پیل کې صدیقي فر مولانا نور احمد اسلام جار ته د روژې مبارکې میاشتې د مبارکۍ ترڅنګ د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا غوښتنه وکړه. ص۵

# د سرپل ښاروالۍ ۵۷ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي

شریعت: د سرپل ښاروالۍ تېر کال ۵۷ میلیونه او ۷۶۰ زره افغانۍ عواید را ټول کړي دي.

د سرپل ښاروال قاري عبدالوکیل معاذ رسنیو ته وویل، چې د اسلامي امارت په بریا سره یې د ښاري نظم لپاره هلې ځلې چټکې کړي او د ښار په بېلابېلو برخو کې یې ګرځنده پلورونکو ته په مناسب ځای کې کراچۍ ایښې دي.

معاذ زیاته کړه، چې دوی هره ورځ ۱۵ ټنه کثافات له ښار څخه لرې سیمو ته لېږدوي چې له دې لارې یې هم ډېر عواید ترلاسه کړي دي.

د نوموړي په خبره، په تېر کال یې د ښاري ښکلا لپاره د ښار په بېلابېلو سیمو ۶ زره نیالګي او پر فرعي سړکونو یې کرېږ اچولی دی.

# د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر

## پاکستان دې افغان کډوالو ته د تګ راتګ اسانتیا برابره کړي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست خلیل الرحمن حقاني د پاکستان له شارژدافیر محمد جنید وزیر سره په کتنه کې د دریو اړخیزو ناستو، افغان بندیانو، پر پوله د تلو راتلو پر مهال د اسانتیاوو رامنځته کولو او په ټوله کې د کډوالو په ستونزو خبرې کړې دي.سرچینه زیاتوي، نوموړي له پاکستان څخه وغوښتل څو هغو کډوالو ته چې غواړي د حج فریضې ادا کولو لپاره افغانستان ته راشي، په تګ راتګ کې اسانتیا برابره کړي. د سرچینې د معلوماتو له مخې، جنید وزیر ژمنه وکړه چې یادې ستونزې به له اسلام اباد سره شریکې کړي او په اړه به یې لازم اقدامات وکړي.

# د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال

## اسلامي امارت د لوبغاړو د وړتیاوو لوړولو لپاره ممکنې هڅې کوي



شریعت: د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د پاکستان پر وړاندې د افغان کرکټ ملي لوبډلې د بریا په تړاو په یوه پیغام کې ویلي، چې د افغانانو دې بریا وښوده چې دوی په کمو او د نړیوالو په پرتله په نشتو امکاناتو هم د پرمختګ وړتیا لري.

د ریاست الوزراء مطبوعاتي ۵مخ

# بادغیس او لغمان کې زرګونو کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې

شریعت: د باغیس په مقر ولسوالۍ کې د ۹ میلیونو افغانیو په لګښت د څښــاک اوبو یوه شبکه جوړه او کتې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د دغه ولایت د امنیتي قومندانۍ ویاند احمد جان حنظله وایي، چې دغه شبکه د مقر ولسوالۍ په نورخېلو او حاجي ملا کلیو لپاره د ۹ میلیونو افغانیو په لګښت د ۳ زره لېټره زېرمې په لرلو سره جوړه شوې ده.

د حنظله په وینا، د دغه شبکې پر مټ ۲ زره ۱۰۰ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.




د یو بل خبر له مخې، د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق، یونیسف په لغمان ولایت کې د سلګونو کورنیو لپاره د څښاک د پاکو اوبو د برابرولو خبر ورکوي. یونیسف ویلي چې، د سویډن د نړیوالې پراختیا ۵ مخ

# په افغانستان کې د نري رنځ ناروغانو شمېر زیات شوی

په افغان جاپان روغتون کې د سل یا توبرکلوز ناروغۍ مراجعه کوونکي زیات شوي دي. د دغه روغتون سرطبیب وایي چې د افغان جاپان روغتون ته د ورځې د سل ناروغۍ څه باندې ۷۰ ناروغان مراجعه کوي. له دې سره هممهاله ځینې هغه ناروغان چې په دغه روغتون کې تر درملنې لاندې دي، له عامې روغتیا وزارته غواړي چې په ولایتونو کې یې هم د سل ناروغۍ د درملنې امکانات برابر کړي. هاخوا د عامې روغتیا وزارت وایي چې ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې په هېواد کې د دغې ناروغۍ د مثبتو پېښو شمېر ۳۰ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د عامې روغتیا وزارت د شمېرو پر بنسټ په ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې په ټول هېواد کې پر سل یا توبرکلوز د اخته کسانو شمېر ۵۲ زره تنو ته رسېده. دغه وزارت زیاتوي چې د سل ناروغۍ د درملنې لپاره په ټول هېواد کې ۸۵۰ مرکزونه شتون لري.

# تېر کال کندز کې سلګونه مېله سپکې او درنې وسلې نیول شوې دي



تېر کال کندز کې سلګونه مېله سپکې او درنې وسلې نیول شوې دي د کندز د امنیې قومندانۍ مسوولین وایي، چې په تېر ۱۴۰۱ کال په دغه ولایت کې سلګونه مېله سپکې او درنې وسلې نیول شوې دي.د دغه ولایت د امنیې قومندان قاري بختیار معاذ باختر آژانس ته وویل، چې تېر کال امنیتي ځواکونو سلګونه مېله سپکې او درنې وسلې، درې هاموې ټانګونه او یو کرولا موټر ضبط او په تړاو یې ۴۰ تنه نیولې دي.

معاذ زیاته کړه، چې تېر ۱۴۰۱ لمریز کال کې د غلا، قتل انسان تښتونې او عامه نظم د ګډوډولو په تور څه باندې ۵۰۰ تنه نیولي او دوسیې یې تر څېړنو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته سپارل شوې دي.

د نوموړي په خبره، په دغه موده کې امنیتي ځواکونو د امنیت په خوندي کولو کې د پام وړ لاسته راړونې لرلي او ژمن دي، چې د خلکو امنیت خوندي کړي.

# ساختمان ۷ مکتب در زابل بازسازی گردید



شریعت: کار بازسازی ساختمان هفت مکتب با حمایت مالی صندوق حمایت از کودکان در زابل تکمیل گردید.

مسؤولان ریاست معارف زابل می‌گویند: که کار بازسازی ساختمان هفت باب مکتب در مرکز و ولسوالی‌های ص۵

# د پروان د احصائیې ریاست څه باندې ۱۶ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي

د پروان د احصائیې او معلوماتو ریاست مسوولین وایي، چې په ۱۴۰۱ مالي کال کې څه باندې ۱۶ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي.د پروان د احصائیې او معلوماتو رییس مولوي شفیق الله شهزاد د باخترآژانس خبریال ته وویل، چې دغه ریاست په ۱۴۰۱ کال کې د یاد ولایت په ۹ ولسوالیو کې د برېښنایي، کاغذي پېژندپاڼو، د زېږون او مړینې کارتونو، د کاغذي پېژندپاڼو د تثبیت او اصلاح ۵مخ

# جوزجان، بامیانو او غزني کې له زرګونو بې وزله کورنیو سره مرسته وشوه

په جوزجان، بامیانو او غزني ولایتونو کې له ۳ زره ۳۴۵ بې وزله کورنیو سره د خوراکي توکو او نغدي مرسته وشوه.

د جوزجان په درزاب ولسوالۍ کې له ۱۱۲۰ بې وزله او جنګ ځپلیو کورنیو سره مرسته وشوه، چې په کې هرې کورنۍ ۳۲۰ او ۳۴۰ ډالره ورکړل شول.ورته مهال د بامیانو په ورس ولسوالۍ کې له ۱۲۵ بې وزله کورنیو سره د غیر خوراکي توکو مرسته وشوه، چې په کې هرې کورنۍ ته یو د



پخلنځي کېټ، یو روغتیایي کېټ او یو کارتن صابون ورکړل شو.په همدې حال کې د غزني په ګیرو ولسوالۍ کې د خوړو نړیوال پروګرام ۵ مخ

# کندز کې ۱۰ ټنه تاریخ تېره خوراکي توکي او درمل وسوځول شول

په کندز کې د تاریخ تېره خوراکي توکو او درملو د راټولو کمېسیون له لوري په حضرت امام صاحب ولسوالۍ کې ۱۰ ټنه تاریخ تېره خوراکي توکي او درمل راټول او وسوځول شول.د حضرت امام صاحب ولسوالۍ ښاروال مولوي سید محمد زرقاوي باختر آژانس ته وویل، چې په دغه ولسوالۍ کې یې له دوکانونو، هټیو او مارکېټونو څخه په تېرو ۱۳ ورځو کې تاریخ تېره خوراکي توکي راټول او سوځولي دي.ورته مهال د یادې ولسوالۍ د امنیې قومندانۍ استازي ډاکټر بازمحمد سیرت دوکاندارانو او درمل پلورونکو ته خبرداری ورکړ، چې له تاریخ تېرو او بې کیفیته خوراکي توکو او درملو له پلور څخه ډډه وکړي.په همدې حال کې د حضرت امام صاحب ولسوالۍ یو شمېر اوسېدونکو د دغه ښاروالۍ د دغه اقدام ستاینه وکړه او د دوام غوښتونکي یې شول.